**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د غزې د ښځو او ماشومانو د ژغورلو او الاقصی د ازادولو په موخه پر مسلمانو پوځونو د غږ لپاره نړیوال کمپاین

## (ژباړه)

د قاتل صهیونیستي دولت له لوري پر غزه وحشتناک او ظالمانه بریدونه دوام لري؛ د دغو وحشتونو د قربانیانو ډېره برخه، ۷۰٪ ښځې او ماشومان دی. د اکتوبر له ۷مې نېټې راهیسې د غزې ترانګې پر کورونو، روغتونونو، ښوونځیو، د کډوالو پر مرکزونو او شاوخوا سیمو د پراخه بمبارۍ په پایله کې کابو ۴۵۰۰ ماشومان او ۳۰۰۰ ښځې وژل شوي دي او غزه یې د ښځو او ماشومانو لپاره هدیره ګرځولې ده. جنایتکارو اشغالګرو النصر او الرنتیسي د ماشومانو روغتونونه او المهدي زیږنتون، چې بې ځایه شویو ښځو او ماشومانو پناه پکې اخیستې وه، بمبار کړل. جنګي الوتکې یې پر ښوونځیو سپین فاسفورس غورځوي او په هرو لسو دقیقو کې یو فلسطینی ماشوم وژل کیږي.

د دغې وحشیانه محاصرې په پایله کې له انستیزۍ پرته د ښځو سیزارین (د عملیاتو له لارې زیږون) کېږي؛ ډاکټران د ټپي ماشومانو غړي له انستیزۍ پرته پرې کوي او په انکیوبټرونو کې ماشومان د اکسیجن او سونګ توکو د نشتوالي له امله مړه کیږي. د دښمن ښکاره موخه د الاقصی له سپېڅلې خاورې څخه د فلسطینیانو د راتلونکي نسل له منځه وړل او له نژادي او قومي پلوه پاکول دي.

د حزب التحریر۔ مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې د نړۍ په کچه د حزب التحریر له ښځو سره په ګډه د ۲۱مې پېړۍ د تولوژنې او ظلم پر وړاندې یو پراخ نړیوال کمپاین پیل کړی چې ټاکل شوې د نومبر تر ۲۶مې، *د فلسطین لپاره د ښځو د اقدام نړیوالې ورځې* پورې دوام ومومي. په دغه کمپاین کې د اسلامي خاورې پر پوځونو غږ کېږي چې د غزې د ښځو او ماشومانو د ژغورنې او له دغه ناوړه اشغال څخه د فلسطین د ټولې سپېڅلې خاورې د ازادۍ لپاره چټک ګام پورته کړي. د اقدام ورځ به تر پنځو ډېرې لویې وچې تر پوښښ لاندې راولي، چې د فلسطین، ترکیې، اندونیزیا، تونس، لبنان، مالیزیا، کینیا، امریکا، استرالیا، ډنمارک، هالنډ، بلجیم او برتانیې ښځې به د اقدام د ورځې په مناسبت په لاریونونو، سیمینارونو او نورو غونډو کې برخه واخلي.

د نړۍ هر حکومت د غزې د مسلمانو ښځو او ماشومانو پر ټولوژنې سترګې پټې کړې دي. غربي حکومتونو په ډاګه کړې چې دوی په دې نسل‌وژنه کې شریک او چمتو دي چې د صهیونیستي دولت دفاع او مرسته وکړي؛ د

دوی استعماري سیاستونه، د جنایتونو ډېروالی او هغه معیارونه په پام کې نه نیسي، چې له نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه بلل کېږي. په ټوله کې د امت وینه توییږي، خو د اسلامي نړۍ حکامو او رژیمونو پوځونه په خپلو پوستو کې په ځنځیرونو تړلي، بې ځایه غونډې کوي او خالي اعلامیې ورکوي. د ملیاردونو ډالرو سوداګریزو معاملو په وسیله یې د دغه ظالمانه اشغال لاس پیاوړی کړی دی؛ اړیکې یې ورسره عادي کړې او له مسلمانانو او دین سره یې خیانت کړی دی.

موږ د دغه سپېڅلي اسلامي امت د ښځو په توګه، په اسلامي پوځونو کې پر خپلو ورونو غږ کوو چې د مسلمانانو او خپل دین د مدافعینو په توګه د خپلې اصلي موخې لپاره را پورته شئ او د قدس په لور حرکت وکړئ چې د فلسطین نارینه، ښځې او ماشومان له دغه شریر اشغال څخه خلاص کړئ. تاسو د دې کار لپاره الوتکې، ټانکونه، مهمات او سرتیري لرئ. موږ د مسلمانو پوځونو پر افسرانو غږ کوو چې زموږ د خاورو تر منځ مصنوعي استعماري پولې له منځه یوسي، چې زموږ د مسلمانانو د ویشلو لپاره کارول کیږي او موږ د دښمنانو تابع ګرځوي. موږ پر دوی غږ کوو چې د دغو بې رحمه غدارو حکامو او رژیمونو تختونه چپه کړي، چې د دې یهودو د ریښتیني ساتونکو په توګه یې دنده ترسره کړې او غږ پرې کوو چې د غزې د غمجنو میندو، کونډو او یتیمو ماشومانو د مرستې چیغو ته لبیک ووایي، د هغوی د دفاع لپاره راپاڅېږي او د رښتینې اسلامي رهبرۍ او د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسیس لپاره نصرت (مادي ملاتړ) ورکړي. خلافت به د اشغال شوو اسلامي خاورو د هرې لوېشتې او د نړۍ د ټولو مظلومو مسلمانانو د ازادۍ لپاره حرکت وکړي. موږ دوی ته د الله سبحانه وتعالی دا قول وریادوو:

**[وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا]** [نسأ: ۷۵]

**ژباړه:** «اخر څه دلیل دی چې تاسو د الله تعالی په لاره کې د هغو بېوسه نارینه، ښځو او ماشومانو لپاره نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې راوستل شوي دي او فریادونه کوي چې: اې زمو ربه، موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه؛ له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»

کمپاین له دغو پتو څارلی شئ:

https://hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/hizbuttahrir/25393.html

فسبوک: Women’s Section CMO – HT

د کمپاین د ټرېلر لېنک: https://youtu.be/E4bkN60x8MI

د کمپاین هشټېګ: **#ArmiesToAqsa**

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۲مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ١٦مه**

**د صدور ګڼه: ۰۱٦/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**